# خبرپاڼه

United Nations Development Programme - Afghanistan

۲۷ لیندۍ ۱۳۸۴، دوشنبه

UNDP Afghanistan


## په دې ګڼه کې:


د ایبکو ښار په زرګونو اوسېدونکي به له دوو ژورو څاوو نه ګټه پورته کړي ۲

د افغانستان د تګلارې او بشري پرمختیا مرکز به د ملي بحث او څېړنې ساحه پراخه او بډایه کړي ۳

د قانون او نظم امانتي صندوق له اروپايي ټولنې ۳۰ میلونه ایرو، له جرمنې ۵ ملیونه ایرو او له هالنده ۵ ملیونه ایرو ترلاسه کړي دي ۴

د ملي شورا غړو د اداري فساد ضد مبارزې په هکله د ملګرو ملتونو د نړیوال تړون د سم لاسي تصویب غوښتنه وکړه ۵

هالنډ د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې ته د عدلي سیستم د پیاوړي کولو لپاره ۵۲۵,۰۰۰ ایرو مرسته ورکړې ۶

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې کار ته یوه عمومي کتنه ۷


کابل، د نورو ډیرو پلازمینو تر څنګ، په کابل پوهنتون کې د یو لړ مراسمو په ترځ کې د ۲۰۰۶م کال د بشري پرمختیا نړیوال رپوټ خپور کړ. د ۲۰۰۶م کال د بشري پرمختیا نړیوال رپوټ په نړۍ کې د پاکو اوبو او محیطي حفظ الصحې پر زیاتېدونکي اهمیت تمرکز کوي چې د رپوټ له مخې د مخ په ودو هېوادونو تر ۱ ملیارد ډیر وګړي ورته لاس رسی نه لري. سبړنی رپوټ چې د "تر کمي اخوا: زور، بې وزلي او د اوبو نړیوال کړکیچ" تر نامه لاندې راوتلی د ټولو انسانانو لپاره د بشري حق په توګه لبږ ترلږه په ورځ کې د ۲۰ لیټره پاکو اوبو غوښتنه کوي. د انرژي او اوبو وزیر ښاغلي اسماعیل خان او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې رئیسې انیتا نیرودي د غونډې مشري په غاړه درلوده. په غونډه کې حکومتي چارواکو، د نړیوالو ادارو او نادولتي مؤسسو استازو او د کابل پوهنتون د بېلابېلو پوهنځیو استادانو او لسګونو زده کوونکو برخه اخیستې وه.

ښاغلي اسماعیل خان د خپلو خبرو په ترځ کې د بشري پرمختیا د نړیوال رپوټ لپاره د اوبو او محیطي حفظ الصحې موضوع ټاکنه وستایله او پر داسې مهمو او اغیزمنو ملي او نړیوالو تګلارو یې ټینګار وکړ چې د ناپاکو اوبو نړیوال کړکیچ او د کمزورې محیطي حفظه الصحې ستونزې ته ځواب ووايي. "موږ په افغانستان کې د اوبو د تنظیم په سیستم کې ستره نیمګړتیا لرو. په دې وروستي وخت کې په بادغیس کې سیلابونو ۸۰ کسان او ۳۴۰ دوکانونه په اوبو لاهو کړل خو دولت تر اوسه خلکو ته د اوبو د ټانکرونو له لارې اوبه ویشي. دا یو تریخ حقیقت دی. افغانستان کې اوبه لږ نه دي خو بیا هم د هغو هېوادونو په پرتله له ډیرو ستونزو سره مخ دی چې په طبیعي توګه لږ اوبه لري." د بشري پرمختیا




*بشپړ رپوټ له لاندې ویبپاڼې راښکته کړئ:*
*http://hdr.undp.org/hdr2006/*

سبړنی رپوټ پر ټولو دولتونو غږ کوي چې لږ تر لږه د خپل ناخالص کورني عاید یو فیصد په اوبو او حفظ الصحې ولګوي او د ټولو لپاره اوبو او حفظ الصحې ته د یو برابر لاس رسي لار اواره کړي. د اوبو او انرژي وزیر، په داسې حال کې چې په افغانستان کې یې د اوبو او حفظ الصحې پر کړکیچ رڼاچوله، په دې ټکي ټینګار وکړ چې داسې یوه هر اړخیزه ستراتیژۍ باید پلې شي چې په افغانستان کې له ناپاکو اوبو او حفظ الصحې سره تړلې ستونزې اوارې کړي.

که څه هم افغانستان یو له هغو ۱۷ هېوادونو څخه دی چې د بشري پرمختیا د سبړني رپوټ په شاخصونو کې د اړوندو معلوماتو د تحلیل د نشتوالي له امله ځای نه لري، خو دغه رپوټ داسې مهمې سپارښتنې لري چې له افغان دولت او نورو پرېکړه کوونکو سره د افغانستان په پرمختیایي اجنډا کې پاکو اوبو او محیطي حفظ الصحې ته له لومړیتوب ورکولو سره مرسته وکړي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې رئیسې انیتا نیرودي څرګنده کړه چې د زریزې د پرمختیایي موخو د رپوټ له مخې یوازې ۲۳ ٪ افغان وګړي (۴۳ ٪ کورنۍ په ښاري او ۱۸ ٪ کورنۍ په کلیواله سیمه کې) د څښاک پاکو اوبو ته لاس رسی لري، دا په دې مانا چې په هرو لسو افغانانو کې اته ناپاکې اوبه څښي. "د اوبو او حفظ الصحې په هکله د زریزې د پرمختیایي موخې لاسته راوړنه د نورو موخو د ترلاسه کولو لپاره ډیره مهمه ده. پاکې اوبه او حفظ الصحیه به د بې شمېره ماشومانو ژوند وژغوري، په زدکړه کې به پرمختګ راولي او خلک به له هغو ناروغیو څخه وژغوري چې په بې وزلي کې یې ساتي." انیتا نیرودی وویل. دې زیاته کړه چې " افغانستان د هر کس پر سر د اوبو کافي سرچینې لري، خو که په سمه توګه تنظیم شي. نو له همدې امله د دولتونو په وړاندې دا ننګونه پرته ده چې څنګه باید د اوبو د منصفانه او اغیزمنې ادارې لپاره تګلارې جوړې کړي.

## د لازیاتو معلوماتو لپاره:


اکمل داوي د اطلاعاتو او نشراتو مسوول
۲۲ ۱۱ ۲۰ ۷۰ (۰) ۹۳+
**akmal.dawi@undp.org**

د کلونو دوامداره جګړې په افغانستان کې د اوبو فزيکي زيربنا (هم د څښاک او هم د کرنې) ډېره سخته زيانمنه کړې د اوبو د تنظيم يو پراخ کړکيچ يې رامنځته کړی دی. د دې برسېره د وروستيو کلونو وچکالۍ د څښاک او د کرنې د اوبو په نرۍ تار تړلی وضعيت لا خراب کړی دی. د کارپوهانو د هغه لوړ پوړې پلاوي د څرګندونو له مخې چې د اوبو او حفظ الصحيې په نړيوال کړکيچ کې يې د افغانستان وضعيت په تخنيکي ډول څېړلی :"افغان دولت خپل هر وګړي ته هره ورځ لږ تر لږه د ۲۰ ليټره پاکو اوبو د رسولو او په هېواد کې د حفظ الصحيې د خونديتوب د باوري کولو په لار کې له سترو ننګونو سره مخ دی." په دغه ډله کې دولتي او د نادولتي مؤسسو کارپوهان او خپلواک پوهان شامل وو.

په کابل پوهنتون کې د جيولوژۍ د پوهنځي د رئيس پوهاند نعيم اقرار د څرګندونو له مخې تر يوې لسېزې زيات وخت راهيسې د افغانستان د ځمکې لاندې اوبو سرچينې نه يوازې د اساسي بشري اړتياوو لپاره بلکې د مالدارۍ، ساختماني او نور ډول ډول تجارتي او کرنيزو مقاصدو لپاره کارول شوې دي، چې د ده په خبره د ځمکې لاندې اوبو د تر اندازې ډېر استعمال له امله د ځمکې لاندې اوبو کچه په تدرجي ډول کمه شوې او د راتلونکو لسېزو لپاره ستره ننګونه رامنځته کوي.



*Over 200 academics, students, Gov officials and other experts participated in the Report’s launching*

اوبه په پرمختلونکو هېوادونو کې له عمومي بې وزلۍ سره بېلابېلې اړيکې لري. د اوبو کمی د ډېرو ماشومانو او ښځو فرصتونه کموي او په نړۍ کې د مليونونو وګړو سلامتي له ګواښ سره مخ کوي. " افغان دولت او نړيوال ملګري يې بايد د اوبو د تنظيم د يو اغيزمن سيستم د جوړولو لپاره ګډ کار وکړي او دا ډاډ ترلاسه کړي چې د افغانستان راتلونکي نسلونه به د اوبو او محيطي حفظ الصحيې له کړکيچ څخه ونه ځوريږي." د کرنې، مالدارۍ او خوراکي توکو وزارت مرستيال ښاغلي غلام مصطفی جواد څرګنده کړه.

د بشري پرمختيا رپوټ د لومړي ځل لپاره په ۱۹۹۰م کال کې خپور شو چې يوازينۍ موخه يې يو ځل بيا د بشري پرمختيا په زړه کې د خلکو ځايونه وه، که هغه په اقتصادي بحث کې وي يا په تګلارو او تبليغ کې. دغه موخه هم ډېره ستره او هم ډېره ساده وه چې پراخې اغيزې يې درلودې. د خلکو د اوږد مهاله روغتيا د کچې د ارزلو لپاره له عايد څخه اخوا څرخي؛ د خلکو لپاره، د خلکو په مټ د خلکو د پرمختيا موضوع راپورته کوي او په دې ټکي ټينګار کوي چې د پرمختيا موخې د خلکو د خوښو او ازاديو د ساحې پراخېدنه ده.

د افغانستان د بشري پرمختيا لومړنی رپوټ، چې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري په غوښتنه د خپلواکو ليکونکو د يوې ډلې له خوا راغونډ شوی و، په ۲۰۰۴م کال کې خپور شو. د تګلارې او بشري پرمختيا مرکز، چې د ۲۰۰۶م کال د نومبر پر ۱۲مه نېټه په کابل پوهنتون کې پرانستل شوی، هغه مخکښه اداره ده چې د افغانستان د ۲۰۰۶م کال د بشري پرمختيا رپوټ به برابروي.

# د ايبکو ښار په زرګونو اوسېدونکي به له دوو ژورو څاوو نه ګټه پورته کړي

د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداري د کليو د پرمختيا او بيا رغونې له وزارت سره په ګډه د سمنګانو په مرکز ايبک کې د اوبو دوه ژورې څاوې کيندلې چې د ښار په زرګونو اوسېدونکو ته به د څښاک پاکې اوبه ورسوي. لومړی څا په ثانيه کې ۲،۵ ليټره او دويمه چې څلور سوه مېټره ژوره ده په ثانيه کې تر ۶ ليټره ډېرې اوبه ورکوي. د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداري دغو څاوو ته د برېښنا جنرېټرونه، پمپونه او د اوبو ذخيرې برابرې کړې دي. په همدې پروژه کې د ښار په ځينو سيمو کې د اوبو پايپونه غځول شوي، چې د ښار په بېلابېلو سيمو کې بمبې ليرې او نږدې کورونه له همدغو بمبو څخه پاکې اوبه ترلاسه کولی شي. داسې اټکل کېږي چې دواړه څاوې به شا او خوا ۳۰،۰۰۰ خلکو ته پاکې اوبه ورسوي. د پايپ شبکه د خلکو کورونو ته دننه د اوبو د پايپونو د رسولو په لار کې لومړی ګام دی. د ايبکو په ښار کې د اوبو او محيطي حفظ الصحيې ژورې ستونزې ته په پام سره، دغه پروژه يوه ستره پرمختيايي بريا ګڼل کېږي چې د خلکو پر ورځني ژوند به د پام وړ اغيزې ولري.

له بده مرغه، ايبک د اوبو او محيطي حفظ الصحيې اوږده ستونزه لري. د سمنګانو مرکز د ايبکو ښار شا اوخوا ۶۰،۰۰۰ اوسېدونکي د لښتيو او يو شو ډنډونو اوبه څښي. دغه ناپاکې اوبه د ښار اوسېدونکي له سترو روغتيايي ستونزو سره مخ کوي. د دې ستونزې برسېره، په اوړي (دوبي) کې د لښتيو او ډنډونو اوبه وچېږي او د خلکو ژوند لا ډېر ستونزمنوي. په اوړي کې د اوبو له وچېدو سره ښځې او ماشومان خپل هغه وخت چې په زده کړه او نورو ګټورو کارونو کې يې بايد لګولی وای، د اوبو پر راوړلو لګوي. هغه چې له ليرې ځايونو اوبه نشي راوړی، د خپل کم عايد



**د ايبکو ښار اوسيدونکي له ويالو او ډنډو نه اوبه اخلي، عکس اخيستونکی: عتيق الله**

شاوخوا ۵۰ افغانۍ د يو برل اوبو لپاره ورکوي.

د سمنګانو والي ښاغلي عبدالحق شفق د يوه رڼه او ټول شموله بهير له لارې د دغې پروژې د پلي کولو لپاره د ملګرو ملتونو د پرمختيايي دارې مننه وکړه. د ښاغلي شفق د څرګندونو له مخې دا تر ټولو دويمه غټه پروژه ده چې د سمنګانو د ايبکو په ښار کې پلي کېږي او د ښار په عمومي پرمختيا کې ستر اهميت لري. ده زياته کړه: "تر هوا وروسته پاکې اوبه د ژوند تر ټول مهمه اړتيا ده، خو د ايبکو ښار اوسيدونکې يې تر ډېر وخت راهيسې نه لري. شا خوا ۴۹،۰۰۰ خلك به بې ځايه شي، که موږ د سمنګانو په ولايت کې د اوبو ستونزه اوره نه کړو.‘‘

د اوبو ستونزه په سنګانو کې خورا خپره ده. د دغه ولايت د والي ښاغلي شفق د څرګندونو له مخې، لږ تر لږه ۳۵ ژورې څاوې بايد وکښل شي څو د سمنګانو د اوسېدونکو زياتېدونکو اړتياوو ته ځواب ووايي. سمنګان يو له هغو ولايتونو دی چې وروستی وچکالۍ سخت اغيزمن کړی دی.

د نشه يي توکو او جرمونو په وړاندې د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر د ۲۰۰۶م د اپينو د سروې له مخې، په سمنګانو کې په ۲۰۰۶م کال کې ۴۹ ٪ کم اپين کرل شوی و. "هيله من يو چې په راتلونکي کال کې به سمنګان له اپينو پاك ولايت وي" د سمنګانو والي وويل. که څه هم دوی به بې له شرطه د اپينو کښت له منځه يوسي خو غواړي چې د دې تر څنګ ځيني داسې پروژې پلي کړي چې د ولايت د بې وزلو وګړو لپاره د ژوندانه د توښې د برابرولو لپاره زمينه برابره کړي.

# د افغانستان د تګلارۍ او بشري پرمختیا مرکز په د ملي بحث او څېړنې ساحه پراخه او بډایه کړي

په کابل پوهنتون کې د افغانستان د تګلارۍ او بشري پرمختیا د لومړني مرکز پرانیستنه په، چې یو څېړنیز علمي مرکز دی، د هېواد د تر ټولو اوچتې مؤسسې د عصري کېدنې لپاره ژورې اغیزې ولري. د تګلارۍ او بشري پرمختیا مرکز د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري او کابل پوهنتون ګډه نوښت دی چې د افغان پوهانو، پرېکړه کوونکو او روڼ اندو په منځ کې د بشري پرمختیا مفاهیمو ته د ودې ورکولو موخه لري. د ۲۰۰۶م کال د نومبر پر ۱۲مه نېټه، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداري او کابل پوهنتون د یو لړ مراسمو په ترځ کې نوموړی مرکز پرانیست. په دغو مراسمو کې دولتي چارواکو، د بېلابېلو نړیوالو سازمانونو استازو او د کابل پوهنتون یو شمېر استادانو او زده کوونکو برخه اخیستې وه.

د کابل پوهنتون مرستیال ښاغلي ستانکزي د خپلو خبرو په ترځ کې وویل: " هیله من یم چې کابل پوهنتون به زموږ په اکاډمیک ژوند کې د بشري پرمختیا د نظرېې ریښې ژورې ښخې کړي او همدارنګه به هڅه وکړي چې دغه نظریه له کابل څخه بهر نورو ولایتي پوهنتونونو ته هم وغځوي." ښاغلي ستانکزي د دې تر څنګ چې د ملګرو ملتونو له پرمختیایي اداري یې مننه کوله، د تګلارۍ او بشري پرمختیا مرکز او کابل پوهنتون تر منځ د نږدې همکارۍ پر اهمیت ټینګار وکړ.

د تګلارۍ او بشري پرمختیا مرکز یوه مرکزي دنده په افغانستان کې د ۲۰۰۶م کال او راتلونکو کلونو لپاره د بشري پرمختیا ملي رپوټ خپرونه ده. د افغانستان د بشري پرمختیا لومړنی رپوټ، چې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري په غوښتنه د خپلواکو لیکونکو د یوې ډلې له خوا راغونډ شوی و، په ۲۰۰۴م کال کې خپور شو. د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره به د تبلیغ د دغې پیاوړې وسیلې د پرمختیا ملاتړ ته ادامه ورکړي څو افغانان وکړای شي چې په بشري پرمختیایي نظریو کې د ښه کیفیت لرونکې څېړنیزه لار خپله کړي. د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري مرستیال رئیس ښاغلي ایین هالنډ د مرکز د پرانیستنې په مراسمو کې د خپلو خبرو په ترځ کې وویل: "دا هېواد یو داسې پرمختیایي لرلید ته اړتیا لري چې د افغانانو د اوږد مهاله اړتیاوو او هیلو پر بنسټ ولاړ وي. دغه ډول لرلید کېدای شي د معلوماتو د ترلاسه کولو، غونډولو او شننې؛ او په عامه کچه د لارو چارو په اړه د خبرو اترو وروسته له مشارکتي لارو څخه راوویستل شي."



ښاغلی ستانیکزی او ښاغلی هالنډ د مرکز د پرانیستلو د مراسمو په ترځ کې پیته پرې کوي

دغه مرکز به همدارنګه بهرنیو هېوادونو ته د کابل پوهنتون د څېړونکو، استادانو او محصلینو د لیږلو او له نورو هېوادو کابل پوهنتون ته د کارپوهانو راوستلو پروګرام پیل او پلي کړي. له کلونو راهیسې افغان پوهانو او خپلواکو څېړونکو د اوږدې کورنۍ جګړې له امله د خپل مسلکي ظرفیت لوړولو موقع نه درلوده. د افغانستان د تګلارۍ او بشري پرمختیا مرکز به وتلي نړیوال پوهان راوبلي څو خپلې علمي او ساینسي څېړنې له افغانانو سره د سیمنارونو، معلوماتو او نورو پروګرامونو له لارې شریک کړي. د دې تر څنګ، نوموړی مرکز به د بورسونو، سکالرشیفونو او نورو نړیوالو علمي فرصتونو له لارې د افغان پوهانو او څېړونکو د مسلکي ظرفیت د لوړولو لپاره کار وکړي.

بالاخره، دغه مرکز به د د ولت، مدني ټولنې، نړیوالو پرمختیایي مؤسسو او افغان روڼ اندو لپاره د تګلارۍ په اړه لوړ کیفیت لرونکې او له علمي پلوه تازه نوښتګرې څېړنې او شننې وړاندې کړي. د افغانستان دولت هڅه کوي چې له افغان او نړیوالو همکارانو سره په نږدې سلامشوره او همکارۍ کې د افغانستان ملي پرمختیایي تګلاره پلي کړي. د تګلارۍ او بشري پرمختیا د مرکز ونډه به د مسلکي شننو، څېړنو او سپارښتنو له لارې د افغانستان د ملي پرمختیایي تګلارۍ اغیزمنتیا لا ډېره بډایه کړي.

نوموړی مرکز د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري د تخنیکي او مالي ملاتړ پر مټ جوړ شوی او کابل پوهنتون د کابل پوهنتون دننه د مرکز د وادنۍ لپاره ځمکه ورکړې ده.

# په افغانستان کې د ایچ ای وي ۶۱ مثبتې پېښې ثبت شوې او ډېرې ناتائید شوې پېښې شته

د نړۍ د نورو پلازمینو په څېر کابل هم د لیندۍ پر ۱۰مه نېټه د ایډز نړیوال ورځ د عامې روغتیا په وزارت کې د یو لړ پروګرامونو په ترځ کې ولمانځله. د دولت او بېلابېلو نادولتي مؤسسو تر ۱۰۰ ډېرو استازو په دغه پروګرام کې برخه اخیستې وه، څو د دغه وژونکي ویروس د خپرېدو په وړاندې خپله ژمنه تازه کړي. د وروستیو شمېرو له مخې، چې د عامې روغتیا وزارت له خوا تائید شوې، په افغانستان کې د ایچ ای وي ۶۱ مثبتې پېښې او کېدای شي په حیرانوونکې توګه تر دې شمېرې ډېرې پېښې وي ان کېدای شي زرګونو ته ورسېږي. د ټولنیز پېغور، د ځان ته پاتېکو د وېرې او یو لړ نورو ناسمو تصوراتو له امله ډېر په ایچ ای وي اخته کسان خپل ځان پټ ساتي او له ټېسټ او درملنې ډډه کوي. د کابل د وینې په مرکزي بانک کې د خپل خوښې سلامشورې او کتنې مرکز سمبالوونکي ډاکټر صابر اداب په خپلو خبرو کې وویل: "په ایچ ای وي/ایډز اخته کېدل جرم نه دی او نه د ایچ ای وي/ایډز ناروغان مجرمین دي." د ډاکټر اداب د څرګندونو له مخې، ناروغان باید پر دې پوه شي چې نوملیکنه او مشوره اخیستنه نه یوازې د دوی ژوند اوږدوي بلکې دوی ته د نږدې کسانو د روغتیا او سلامتیا ساتنه هم کوي.

غونډې ته په رالېږلي لیکلي پیغام کې ولسمشر کرزي وویل " زما غوښتنه او هیله له تاسو (د غونډې برخه والو) او نړیوالې ټولنې څخه دا ده چې له دم ګړی وروسته داسې اغیزمنې وقایوي کړنلارې او تدابیر ونیسئ چې د ایچ ای وي/ایډز مخه ونیسي او زموږ ولس له بلې غمیزې څخه وساتي.". ولسمشر پر افغانانو غږ وکړ چې د ایچ ای وي/ایډز له خپرېدو سره تړلیو ګواښونو ته خورا پاملرنه وکړي. د ولسمشر پیغام دا په ګوته کوي چې د افغانستان مشرتابه په سیاسي توګه د ایچ ای وي/ایډز د وبا په وړاندې مبارزې ته ژمن دی.

د رپوټونو له مخې د نړۍ شا او خوا ۴۰ ملیونه وګړي په ایچ ای وي اخته دي چې ډېری یې د پرمختلونکو هېوادونو اوسېدونکي دي. د عامې روغتیا د وزیر ښاغلي فاطمي پیغام غونډې ته د مرستیال وزیر له خوا ولوستل شو. په دغه پیغام کې ښاغلي فاطمي څرګنده کړه چې ایچ ای وي/ایډز د بشري سلامتیا په وړاندې یو ګواښ دی او ګڼې ټولنیزې او اقتصادي اغیزې لیري. ده زیاته کړه " ایچ ای وي/ایډز د بیلګې په توګه په ډېری پرمختلونکو هېوادونو کې انساني زیږون اغیزمنوي . د دغې ناروغۍ له امله د یتیمانو شمېر ډېرېږي چې له ټولنیزه او اقتصادي پلوه یې سمه ساتنه هم نه کېږي. د دې تر څنګ د ایچ ای وي/ایډز په درملنه د پام وړ عامه لګښتونه لګېږي." د عامې روغتیا د وزیر د څرګندونو له مخې په افغانستان کې د ایچ ای وي/ایډز په وړاندې د مبارزې لپاره ګڼ اړخیزو هڅو او همکارۍ ته اړتیا ده. په دې لار کې له نړیوالې ټولنې نه تمه کېږي چې له افغان دولت سره سخاوتمندانه مالي او تخنیکي مرستې وکړي او ولس باید په ټینګه د ایچ ای وي/ایډز په وړاندې د دولت د مبارزې ملاتړ وکړي.

په غونډه کې د نادولتي مؤسسو او مدني سازمانونو استازو په خپلو وینااو کې د ایچ ای وي/ایډز اړوندو مسایلو نه، پر وخت، د خلکو د خبرېدو پر اهمیت ټینګار وکړ، چې په سر کې یې باید د انسانانو تر منځ د ایچ ای وي د خپرېدو د څرنګوالي په هکله معلومات ځای ولري. د غونډې ټول برخه وال د دې حقیقت په هکله یو غږ وو چې "هیڅ هېواد د ایچ ای وي/ایډز په وړاندې د معافیت ادعا نشي کولی." ایچ ای وي/ایډز یوه داسې وبا ده چې تر پولو تیرېږي او پرته له دې چې سیاسي، جغرافیایي یا کلتوري توپیرونه په پام کې ونیسي ټول بشریت ته ګواښ رامنځته کوي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې د عامې روغتیا له وزارت سره په افغانستان کې د ایچ ای وي/ایډز د خپرېدو د مخنیوي او له دغې ناورغې څخه د خلکو د پوهاوي په برخه کې تخنیکي او مالي مرسته کړې ده. د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ د وسایلو، انټرنیټ ته د لاس رسي، د غونډو د خونې د ترمیمولو او سمبالولو، د یو موټر او ظرفیت لوړولو د نورو اړوندو وسایلو د ورکولو له لارې د ایډز د کنټرول د ملي پروګرام د دفتر له جوړېدو سره مرسته کړې ده.

د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې د مرستې په ملاتړ په جلال آباد کې د خپل خوښې سلا مشورې او کتنې یو نوی مرکز جوړ او په اړینو وسایلو سمبال شوی دی. دغه مرکز د ننګرهار او ګاونډیو ولایتونو لپاره په وړیا توګه د ایچ ای وي/ایډز د ټیسټ او سلا مشورې اسانتیا وړاندې کوي.



## د قانون او نظم امانتي صندوق له اروپايي ټولنې ۳۰ میلونه ایرو، له جرمني ۵ میلونه ایرو او له هالنډ ۵ میلونه ایرو ترلاسه کړې دي

اروپايي کمېسیون منلې چې د قانون او نظم امانتي صندوق د ملاتړ لپاره به د ۳۰ میلونه ایرو مرسته کوي. د مرستې تړون په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې او په کابل کې د اروپايي کمېسیون د مرکزي دفتر تر منځ د ۲۰۰۶م کال د ډیسمبر پر ۳مه نېټه لاسلیک شو. تمه کېږي دغه مرسته به د پولیسو له لا ښې روزنې او سمبالولو سره مرسته وکړي او په افغانستان کې به د قانون په واکمنۍ او نظم کې روښانه ونډه ولري چې دا به په خپل وار کوونی، سیمه یز او نړیوال امنیت ښه کړي. د قانون او نظم امانتي صندوق به دغه مرسته نه یوازې د پولیسو د تنخاوو لپاره بلکې د کورنیو چارو له وزارت سره د پولیسو د نه وژونکو وسلو په پیرودنه او ساتنه؛ د پولیسو د تاسیساتو لکه پوستو او داسې نورو په بیا رغونه او جوړونه او د پولیسو د بنیادي پرمختیایي بهیر په ملاتړ کې به یې هم ولګوي.

د جرمني فډرالي جمهوریت د قانون او نظم له امانتي صندوق سره د ۵ میلونو ایرو مرسته کړې ده. دغه مرسته به د مرستې د تړون له مخې، چې د ډیسمبر پر ۶مه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې د رئیسې اغلې انیتا نیرودی او په کابل کې د جرمني د شارژدافیر، ابیټ کلین، تر منځ لاسلیک شو، د پولیسو د تنخاوو لپاره وکارول شي. د پولیسو تنخا د امانتي صندوق په بودجه کې د لومړي لومړیتوب په توګه پېژندل شوې ده. د قانون او نظم امانتي صندوق به د جرمني د دولت مرسته په ځانګړې توګه د ۲۰۰۷م کال د فبروري تر ۲۸مې نېټې پورې د پولیسو پر تنخاوو ولګوي.

د مرستې یو بل تړون د هالنډ د پرمختیایي همکارۍ د وزارت په استازیتوب په کابل کې د هالنډ د سفیر ښاغلي رولانډ وان ډي ګییر او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې د رئیسې انیتا نیرودي تر منځ لاسلیک شو. د ۵ میلونه ایرو دغه مرسته به د امانتي صندوق چارې د ۲۰۰۶م کال د نوامبر له ۱۳مې نېټې نه د ۲۰۰۷م د مارچ تر ۳۱مې نېټې پورې تمویل کړي. دغه مرسته به له کورنیو چارو وزارت سره پر خپل وخت د ملي پولیسو د تنخاوو په ورکولو کې مرسته وکړي چې د نظم او امانتي صندوق د څلورم پړاو یو شرط دی.

افغانان او نړیواله ټولنه د افغانستان لپاره د امنیت ښه والي یو ستر لومړیتوب ګڼي. د امنیت ښه والي د دې تر څنګ چې ولسواکۍ او د قانون د واکمنۍ لپاره ډېر مهم دی د بیارغونې، اقتصادي پرمختګ او خصوصي پانګه اچونې لپاره یو اساسي شرط دی. په افغانستان کې د ملي پولیسو د ځواک بیا جوړونه د قانون د واکمنۍ او امنیت لپاره اساسي عنصر دی. په ملي پرمختیایي چوکاټ او ملي پرمختیایي بودجه کې د پولیسو د داسې یو مسلکي او منظم ځواک وړاند وینه شوې، چې د کورنیو چارو وزارت ته وفاداره او په پراخه توګه د عوامو تر سترګو شي خو په وګړو کې د ارامي احساس پیدا کړي او د مدني ټولنې پرمختګ او د نشه یي توکو له سوداګرۍ سره مبارزه شوني کړي. افغان ملي پولیس باید دا وړتیا ولري چې سیمه یز او نړیوال امنیت سره مرسته وکړي او د ملي هویت د سمبول په توګه دنده ترسره کړي.

د افغان دولت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه دفتر (یوناما) په غوښتنه، د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې د ۲۰۰۲م کال په مۍ کې د دولت د پولیسو اړوندو لګښتونو د برابرولو لپاره د قانون او نظم امانتي صندوق جوړ کړ. د پروژې درې پړاوونه په سمه توګه پلي شوي او څلورم پړاو یې روان دی. په څلورم پړاو (اپریل ۲۰۰۶– مارچ ۲۰۰۸) کې تمه کېږي چې د قانون او نظم امانتي صندوق به په ۳۴ واړو ولایتونو کې د پولیسو د تنخاوو ورکړه باوري او د تادیاتو کمپیوټري سیستم به ځای پر ځای کړي. د قانون او نظم امانتي صندوق موخه دا وه چې په منځمهاله دوره کې د پولیسو عادي لګښتونو تر هغه وخته برابر کړي چې افغان دولت د پولیسو د ټولو عادي لګښتونو یا ډیرې برخې لپاره کافي عاید تر لاسه کړي.



نړیواله ټولنه د ملي پولیسو له سمبالولو سره مرسته کوي

بلجیم، کاناډا، ډینمارک، اروپايي کمېسیون، فنلنډ، جرمني، هنګري، ایرلینډ، جاپان، هالنډ، ناروې، سویټزرلینډ، د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره، برتانیا او د امریکا متحده ایالات له تیرو درې کلونو راهیسې د قانون او نظم له امانتي صندوق سره مرسته کوي.

# د ملي شورا غړو د اداري فساد ضد مبارزې په هکله د ملګرو ملتونو د نړیوال تړون د سم لاسي تصویب غوښتنه وکړه

په افغانستان کې د اداري فساد په وړاندې د مبارزې په هکله د یوې دوه ورځنۍ غونډې په پای کې د غونډې شا اوخوا ۱۵۰ ګډون کوونکو پرته له ځنډه د اداري فساد ضد مبارزې په هکله د ملګرملتونو د نړیوالو تړون د تصویبولو غوښته وکړه. غونډه د ملي شورا له خوا د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري د پارلماني ملاتړ د پروژې په مرسته جوړه شوې وه. په دغه دوه ورځنۍ غونډه کې چې د لیندۍ پر ۸مه او ۹مه نېټه په کابل سیرینا هوټل کې جوړه شوې وه، د ملي شورا د دواړو مجلسونو رئیسانو او مرستیالانو، قاضی القضات، د لوی څارنوال مرستیال، وزیرانو، د پارلماني کمېسیونونو مشرانو، د ولسي جرګې او مشرانو جرګې غړو او نړیوالو کارپوهانو په نړۍ او په ځانګړې توګه په افغانستان کې د اداري فساد پر اصلي جوړښتونو او ځانګړتیاوو له بېلابېلو زاویو رڼا واچوله.

غونډې ته په رالېږلي پیغام کې ولسمشر حامد کرزي پر برخه والو غږ وکړ چې د دغې خورا خپرې پدیدې په وړاندې د مبارزې د اغیزمنو او نویو لارو چارو د سپړلو له لارې د افغان دولت د هغو هڅو ملاتړ وکړي چې د دولتي فساد د له منځه وړلو لپاره یې ترسره کوي. د ولسمشر په پیغام کې چې د غونډې په پیل کې د پارلماني چارو لپاره د دولت وزیر ښاغلي فاروق وردګ لوسته، راغلي: "نور نو د افغانستان اسلامی جمهوریت فاسد او بډه اخیستونکي اداره چیان نشي زغملی. یو ځل بیا ټولو اړوندو چارواکو ته لارښوونه کیږي چې اداري ارګانونه له دغه ډول مضرو عناصرو څخه پاك کړي.". په دغه پیغام کې ولسمشر کرزي په یو مهم پړاو کې د دغه ډول مهمې غونډې د جوړلو لپاره د ملي شورا او د دغه نوښت د ملاتړ لپاره په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري مننه وکړه.

د ولسي جرګې رئیس ښاغلي محمد یونس قانوني د غونډې برخه والو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل " اداري فساد یو له هغو ننګونو څخه دی چې هم ولس او هم افغان دولت ځوروي. دې پدیدې یوازې افغانان نه دي اندیښمن کړي بلکې زموږ هغه نړیوال دوستان یې هم له تشویش سره مخ کړي چې له موږ سره د یو اغیزمن دولت په جوړلو کې مرسته کوي." قاضی القضات پوهاند عبدالسلام عظیمي اداري فساد داسې یوه ستره بلا (وبا) وبلله چې بشپړې درملنې ته اړتیا لري. د پوهاند عظیمي په وینا، له بده مرغه اداري فساد او له دولتي واك څخه ناوړه ګټې اخیستنې په افغانستان کې د یو څرګند حقیقت په توګه ځای نیولی چې په ډیموکراټیکه توګه د منتخب حوکمت حیثیت ته زیان رسوي او افغان ولس یې له سترو ناخوالو سره مخ کړی دی. پوهاند عظیمي زیاته کړه: "د عدلي سمون د پروګرام له لارې [د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري له خوایې ملاتړ کیږي] موږ تر خپله ټوله وسه هڅه کوو چې په عدلي چارو کې د کارکوونکو ظرفیت لوړ کړو او په دې توګه د اداري فساد په وړاندې جګړې ته خپله ژمنتیا جوته کړو."

د اعلامیې له مخې، ملي شورا به د اداري فساد پر خلاف د ګډ او یو موټي ملي سنګر د رامنځته کولو لپاره د ټولو دولتي څانګو او مدني ټولنې د همکارۍ په ترلاسه کولو کې مخکښ نقش ولوبي. ملي شورا باید د اعلامیې له مخې "د اداري فساد په وړاندې د مبارزې تګلاره برابره کړي او قوانین، معیارونه او مقررات له دې موخې سره له سره وګوري چې تر کومه ځایه په افغانستان کې د اداري فساد په وړاندې د مبارزې، د عامه خدمتونو د اغیزمنو سسټمونو د برابرولو او په سوداګریزو فعالیتونو کې امانتداري ته د ودې ورکولو لپاره کفایت کوي."

د غونډې په اعلامیه کې پر درې واړو څواکونو (اجرایه، عدلیه او مقننه)، ملي او بین المللي سازمانونو، مدني ټولنې او ټول افغان ولس غږ شوی چې د زړه له کومې د اداري فساد ضد اقداماتو ملاتړ وکړي او د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې د ادري فساد په له منځه وړلو کې مرسته وکړي. د اعلامیې تر څنګ د ادري فساد په وړاندې د اقدام یو کلك پروګرام مل و.

د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري د پارلماني ملاتړ (سیل) د پروژې په هکله یو څو ټکي:

پر وخت د ملي شورا د جوړېدو او د دغې شورا د دندو د ستراتیژك ملاتړ لپاره، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداري له دولت سره په نږدې همکارۍ کې د افغان مقننه څواك د جوړېدو د ملاتړ پروژه (سیل) پیل کړه. دغه پروژه د ۲۰۰۵م کال په فبروري کې پیل شوې او بودجه یې ۱۵،۵۰۱،۹۰۶ امریکایي ډالر ټاکل شوې ده.

**د اداری فساد پر ضد د کابل اعلامیه**

**مونږ، د اداري فساد ضد کنفرانس ګډونکونکي**، چې د ۱۳۸۵ ل د قوس په ۸ او ۹ نیټه چې د ۲۰۰۶م د نومبر د ۲۹ او ۳۰ نیټې سره سمون خوری، په کابل کې دایر شو.

ژمن یو چې، د افغانستان د اسلامی جمهوریت خلك باید په پرله پسی توګه د سولی، ولسواکی پرمختیا او اقتصادی ودی څخه برخمن شي، او د هر ډول نا برابری او بی عدالتی سره مبارزه وشي.

مونږ اندیښمن یو چې، اداری فساد په افغانستان کې د ژوند ولسواکی لاری ته ګواښ دي، سیاسي او ټولنیز موسسات کمزوری کوي، د دولت په سیاسی رهبری باندی زمونږ باور او د قانون حاکمیت له منځه وړي.

مونږ، د اقتصادي پرمختیا او ټولنیزی خیرښیګڼې، محدودو طبیعی منابعو، د اقتصادی ودی د ثمری ناسم ویش، او د بنسټیزو خدماتو کموالی باندی، د اداری فساد د ناوړو تاثیراتو څخه پوه او ښه خبر یو، مونږ ژمن یو چې د اداری فساد کلتور له منځه ویسو، د خپلو خلکو حیثیت لوړ کړو، او په بشپړ ډول یو ریښتونی، روڼ او مسؤول حکومت رامنځ ته کړو.

مونږ پریکړه کوو، او ځانونه ژمن ګڼو چې د هری کچی اداری فساد په کنترول، مخنیوی او له منځه وړلو کې به په ډلیز او ګړیز ډول کلك ګامونه پورته کوو، او د دولت پر دری ګونو قواوو، ټول ملت، ملی او نړیوالو سازمانونو باند غږ کوو تر څو د اداری فساد په له منځه وړلو کې، یو واحد، همغاړی او تل پاتی ستراتیژیك دریځ غوره کړي، او په ځانګړي ډول په ملي شوري غږ کوو چې:

۱. د اداری فساد په وړاندی د ملګرو ملتونو کنوانسیون تصویب کړي، تر څو د شمول پروسه یې د افغانستان په قوانینو کې ګړندی شي.

۲. د اداری فساد سره د مبارزی یوی جبهی جوړولو لپاره، د ملي شوري غړیو، حکومت او نورو ملی او نړیوالو سازمانونو تر منځ د همکاری رامنځ ته کولو مشرتوب په غاړه واخلي.

۳. د اړتیا په وخت کې، د اداری فساد ضد مبارزی، نور قوانین جوړ؛د خپلو کمیسینونو ښه نظارتی اغیزمنتیا زیاته؛ او د همدی موخی لپاره، مسؤولین او کارمندان د لا ښو مالوماتو او تخصص لاس ته راوړلو لپاره رهنمای کړی.

۴. د فساد په ضد د یوه ستراتیژی جوړول: په افغانستان کې د اداری فساد سره د مبارزی، دولتی خدماتو لپاره د اغیزمنو سیستمونو پرمختیایقینی کړي؛ او په سوداګریزو فعالیتونو کې ایمانداری او ربښتینولی ته وده ورکړی او د قوانینو، معیارونو، کودونو بستیا وارزوی.

۵. مونږ په ملي شوري، حکومت او قضاییه قواوو باندی غږ کوو چې د افغانستان په ټولو سکتورونو کی د ګډون فرصتونه اماده کړی ترڅو د قانون په حاکمیت او ښه حکومت کولو کې برخه واخلي.

۶. د قانون حاکمیت، د وړتیا پر بنسټ ګمارل او همدارنګه د فشار کارونې او نا قانونه ټاکنې د مخنیوی په موخه، د ډاياك پروګرام ته ګړندیتوب ورکول شي.

۷. د دولتی کارمندانو د مناسب معیشت د تآمین او د معاشاتو تر منځ د انډول راوستلو لپاره یو چټك میکانیزم رامنځ ته شي.

۸. د اساسی قانون د ۱۴۹ می مادی سره سم، که چیرته د اساسی قانون نور مواد د تعدیل اړتیا ولری، مطالعه او وکتل شی.

۹. تر هغه ځایه پوری چې د نړیوالو ارګانونو مصارف د ملی شوری او د حکومت د نظارت لاندی نه نیول کیږي، نو د نړیوالو ارګانونو څخه غوښتنه کیږي ترڅو د شفافیت او حساب ورکونې زمینه د افغانستان د خلکو او مرستندویه هیوادونو په وړاندی برابره کړي.

۱۰. په ټولنه کې د فساد له منځه وړل دا ایجابوی چې د هیواد بچیانو ته د هغوی د زده کړو پر محال، دې ټکی ته جدي پاملرنه وکړي او د ښوونځیو او لوړو زده کړو په تعلیمی نصاب کې دې موخې ته د رسیدو لپاره بیا کتنه وشي.

۱۱. د ټولو خبری رسنیو څخه خواهش کوو چې په خپله خوښه د اداری فساد ضد مبارزه کې د خپلی ملي دندې او رسالت په حیث مرسته وکړي.

همدارنګه مونږ د دولت پر دری ګونو قواوو، ملی اونړیوالو سازمانونو او ټول ملت باندی غږ کوو چې په ډیره صادقانه توګه ددی اعلامیی ملاتړ وکړي، اوهر یو یې د خپل صلاحیت او دندو په ساحه کې د پورتنیو پریکړو او د حکومت د کاری پلان سره سم زر تر زره ګامونه پورته کړي، تر څو اداری فساد د دولت د هری برخی څخه له منځه ولاړ شي.

کابل- افغانستان د نومبر ۲۹ – ۳۰، ۲۰۰۶ او د ۱۳۸۵ د لیندی ۸ او ۹

# دولتي کارکوونکو ته د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې د امانتي صندوق د نوښتونو او د دولت د تهيې او تدارکاتو د نوي قانون په هکله معلومات ورکړل شول

د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې وزارت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداري د بېلابېلو وزارتونو د ماليې او دتهيې او تدارکاتو مسؤلينو ته د دولت د تهيې او تدارکاتو د نوي قانون د وړپېژندلو لپاره د ۲۰۰۶م کال د نوامبر پر ۲۹مه نېټه نيمه ورځنۍ ورکشاپ جوړ کړی و، چې موخه يې د هغو په ډاګه شويو تخنيکي خنډونو له منځه وړنه وه چې د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې د امانتي صندوق د پروژو اغېزناکه پلي کېدنه بې اغېزمنه کوله لکه د تهيې او تدارکاتو د نوي قانون او کړنلارو په هکله ناخبرې او د اړيکو نشتوالی

د بېلابېلو وزارتونو او سازمانونو شا او خوا ۵۰ چارواکو په دغه ورکشاپ کې برخه اخيستې وه او د ماليې وزارت او د افغانستان د بيارغونې او پرمختيا خدمتونو د مؤسسې کارپوهانو د تهيې او تدارکاتو د نوي قانون په هکله تخنيکي لارښوونه او تفصيلات وړاندې کړه. د دغه نوي قانون په هکله د دولتي کارکوونکو د پوهې د کچې د لوړولو او د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې د امانتي صندوق د پروژو د پلي کولو د ځرګنوالي په هکله د وضاحت رامنځته کولو او د اړوندو وزارتونو د مربوطه مسؤلينو او د تهيې او تدارکاتو د کارکوونکو تر منځ د تجربو د شريکولو موخه يې درلوده.

په ماليې وزارت کې د تهيې او تدارکاتو او پالېسي د څانګې سلاکار ښاغلي راج کمال د نوي قانون د مهمو ټکو او مسايلو په اړه د معلوماتو د وړاندې کولو پر مهال د زوړ او نوي قانون تر منځ توپيرونو باندې رڼا واچوله. د نوي قانون د دويمې مادې له مخې د قانون اصلي موخه " د اغېزمنې بودجې او لګښتونو د کنټرول او ربوټ ورکولو د اړتياوو پر بنسټ د يو داسې پرانيستي، رڼه او رقابتي سيستم جوړونه ده چې اغېزمن او اقتصادي وي، د ناوړه ګټې اخيستنې مخه ونيسي او د خصوصي تصديو او نورو کسانو په ګډون د ټولو باالقوه قراردادیانو لپاره د برخه اخيستنې منصفانه فرصت رامنځته کړي." د افغانستان د بيا رغونې او پرمختيا د خدمتونو له څانګې څخه ښاغلي بهاودين بهبودي د قانون د ناسمې کارونې د مخنيونې لپاره د نوي قانون د عمومي مبهمو ټکو په هکله معلومات وړاندې کړل.

د ورکشاپ په پای کې ګډون کوونکو خوښې وښودله او د ورکشاپ زده کړه يې د ستايلو تر څنګ د خپل کار لپاره په څانګړې توګه د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې د امانتي صندوق د پروژو د پلي کولو په برخه کې "ګټورې او عملي" وبلله. ګډون کوونکي وهڅول شول چې که د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې د امانتي صندوق د پروژو د تهيې او د تدارکاتو د چارو په هکله لا ډېر وضاحت ته اړتيا ولري نو د ماليې وزارت، د تهيې او تدارکاتو او د پالېسي له څانګې او د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې د امانتي صندوق له ټيم سره دې ارتباط ونيسي.




د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې امانتي صندوق چې د ۲۰۰۵م کال د اکتوبر پر ۲۹مه نېټه په رسمي توګه جوړ شوی افغان حکومت ته، د نشه يي توکو د کنټرول د ملي ستراتيژۍ د اهدافو د لاسته راوړلو د هڅو د ملاتړ لپاره، د ضروري اضافي سرچينو (منابعو) د برابرولو موخه لري. د دغه امانتي صندوق د پرانيستلو تر شا لاندې موخې په پام کې نيول شوي:

د ملي پرمختيايي بودجې له لارې د نشه يي توکو پر خلاف د حکومت د مبارزې د هڅو لپاره د اضافي سرچينو برابرول؛

د دغو سرچينو په تخصيص کې د روڼتيا او حساب ورکولو باوري کول؛

حکومت ته دا وړتيا ورکول چې د نشه يي توکو پرخلاف د مبارزې د ستراتيژۍ په پلي کولو کې په خپله غټه ونډه واخلي؛

د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې اړوندو فعاليتونو ته د پانګې د ورکړې په برخه کې د لاډېرې همغږۍ رامنځته کول.

د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې تګلاره لاندې اته برخې په ګوته کوي:

۱. بديل معيشت؛
۲. د اداري بنسټونو جوړول؛
۳. د عوامو خبرول؛
۴. د قانون پلي کول؛
۵. جنايي عدالت؛
۶. د نشه يي توکو د غوښتنې کمول او پر نشه يي توکو د اخته کسانو درملنه؛
۷. نړيوال او سيمه ييزه همکاري.

د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې د امانتي صندوق چارې د ملي اجرا د لارې له مخې پرمخ وړل کېږي، نو د افغانستان اسلامي جمهوريت د خپلو څانګړو ادارو (ماليې او د نشه يي توکو پر خلاف مبارزې وزارتونو) له لارې د دغه پروګرام د اداري عمومي مسؤليت لري.

## هالنډ د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداري ته د عدلي سيستم د پياوړي کولو لپاره ۵۲۵،۰۰۰ ايرو مرسته ورکړې

د هالنډ د پرمختيايي همکارۍ وزارت د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري له هغې پروژې سره د ۵۲۵،۰۰۰ ايرو مرسته وکړه چې د افغانستان عدلي سيستم پياوړی کوي. د دغې مرستې تړون په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د رئيسې انتيا نيرودی او د هالنډ د پرمختيايي همکارۍ د وزارت په استازيتوب په کابل کې د هالنډ د شاژدافير، يوني سټاسين، تر منځ لاسليک شو. دغه مرسته د هغه عمومي تړون له مخې ځانګړې شوې چې د هالنډ د پرمختيايي همکارۍ د وزارت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري تر منځ د ۲۰۰۵م کال د اګسټ پر ۱۷مه نېټه لاسليک شو. دا مرسته به د ملګرو ملتونو پرمختيايي اډرې ته دا وړتيا ورکړي چې د افغانستان د عدلي سيستم د پياوړي کولو پروژه د ۲۰۰۶م کال له ډيسمبره د ۲۰۰۷م کال تر جون پورې تمويل کړي.

د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د افغانستان د عدلي سيستم د ملاتړ پروژه له عدليې وزارت سره په فعاله توګه د تفصيلي کاري پلانونو په تيارې او د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې له بهير سره سم د عدلي سيکتور لپاره د لومړيتوبونو د ټاکنې په برخه کې تخنيکي ملاتړ او مرسته کوي. د افغانستان د عدلي سيستم د څواکمنولو د پروګرام د ملاتړ په پايله کې عدلي سيکتور د مرستندويانو (ډونرانو) بنه همکارۍ او همغږۍ ترلاسه کړې ده. همدارنګه د افغانستان لنډ مهاله پرمختيايي ستراتيژۍ په عمومي توګه ورځخه ګټه پورته کړې، ځکه چې په بېلابېلو سېکټورونو کې د ملي پلان جوړولو په برخه کې يې د کارکوونکو خبرتيا او کاري ظرفيت لوړ شوی دی. د دې برسېره، د افغانستان د عدلي سيستم د ځواکمنولو پروژې له نورو پرمختيايي مؤسسو سره په ګډه د "عدالت د ټولو لپاره" تګلارې د پلي کولو په خاطر د يو چوکاټ په جوړولو کې برخه اخيستې ده چې لاسته راوړنې به يې د افغانستان له لنډ مهاله پرمختيايي ستراتيژۍ سره وتړل شي.

دغه پروژه له افغان دولت سره د قانون د واکمنۍ او د عدالت د هغو لومړيتوبونو او هدفونو د ترلاسه کولو په برخه کې د مرستې موخه لري چې د افغانستان په لنډ مهاله ملي پرمختيايي ستراتيژۍ کې په ګوته شوي دي او لاندې عمده برخې لري: (۱) د ټولو وګړو لپاره د يو برابر عدالت تر شعار لاندې د يوې تفصيلي تګلارې د جوړولو او پلي کولو په برخه کې له افغان دولت سره مرسته؛ (۲) د عدليې وزارت د بنيادي کاري ظرفيت پياوړي کول؛ (۳) د لوېې څارنوالۍ د بنيادي کاري ظرفيت پياوړي کول؛ (۴) د سترې محکمې د بنيادي کاري ظرفيت پياوړي کول؛ (۵) د حقوقي زده کړو د مؤسساتو د بنيادي کاري ظرفيت پياوړي کول؛ (۶) د عدلي سيکتور لپاره د فزيکي اسانتياوو بيارغونه.

د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره د ملګرو ملتونو د نړیوالي پرمختیا هغه شبکه ده چې د بدلون په لار کې مبارزه کوي او له خلکو سره د ښې راتلونکې د جوړولو په برخه کې د مرستې لپاره هېوادونه له پوهې، تجربو او سرچینو سره تړي.

# په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې کار ته یوه عمومي کتنه

د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره له ۱۹۵۶م کال راهیسې په افغانستان کې شتون لري، چې د پرمختیايي مرستې تر څنګ د ملي بنسټونو د ظرفیت په لوړولو کې ورسره مرسته کوي. د طالبانو په رژیم کې د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې اسلام اباد ته د بېځایه شوو دفترونو له لارې په ټول افغانستان کې له ولس سره مرستې ته ادامه ورکړه. په دغه لسیزه کې، د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې په افغانستان کې ۲۰۰ میلونه امریکایي ډالر مرسته ولګوله. د ۲۰۰۲م کال په سر کې د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې په کابل کې خپل نوی دفتر پرانیست.

د افغانستان په وړاندې ستري بشري پرمختیاي ننګونې پرتې دي. د افغانستان د بشري پرمختیا د ۲۰۰۴م کال د رپوټ له مخې، افغانستان د بشري پرمختیا په لړلیک کې د نړۍ په ۱۷۸ هېوادونو کې ۱۷۳م هېواد دی او د زریزې د پرمختیايي موخو شاخصونه یې د افریقا د صحرا تر ډېرو هېوادونو ښکته ځای کې ښیي. په افغانستان کې د بې وزلۍ ژورتیا د بشري پرمختیا په ټولو شاخصونو کې په ثابته توګه جوته ده او د داسې یو هېواد په توګه یې په ګوته کوي چې دوامداره مرستې ته اړتیا لري. له همدې امله، بې له ایرانتیا، د زریزې د پرمختیايي هدفونو د لاسته راوړنې لپاره افغانستان د نړیوال لومړیتوب په توګه پېژندل شوی دی.

د ۲۰۰۱م کال په ډېسمبر کې د بُن د تړون تر لاسلیک کېدو راهیسې، د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې په افغانستان کې تر یو ملیارد امریکایي ډالرو ډېره مرسته ترلاسه او لګولې ده. په ۲۰۰۵م کال کې د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې ۳۴۹ میلونه پرمختیايي مرسته ترلاسه او لګولې ده، په ځانګړې توګه د ټاکنو، بې وسلې کولو، بیارغونې او د بنسټونو د جوړولو په ډګر کې.

د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه ماموریت (یوناما) او د ملګرو ملتونو د پرمختیايي مرستې په چوکاټ کې کار کوي. د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې د ۲۰۰۵م کال په ډېسمبر کې له افغان دولت سره درې کلن کاري پلان لاسلیک کړ چې پر درې پرمختیايي ساحو تمرکز کوي: دولت جوړونه، ولسواکي او د مدني ټولنې ځواکمنول او پایښتونکی معیشت.

د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې په نوي پروګرام کې د ظرفیت لوړولو، ملي مالکیت او د تګلارو په هکله بحث ته پام اړول شوی دی. د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره غواړي چې د دولت بنیادي کاري ظرفیت لوړ کړي څو عامه خدمتونه په مساویانه او پایښتونکې توګه وړاندې کړي او د مشروع معیشت لپاره یو مناسب چاپیریال رامنځته کړي.

په پام کې نیول شوې پایلې د افغانستان د ملي پرمختیايي تګلارې له موخو او ټکونو سره سم تعقیبیږي. د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره په ځانګړې توګه له دولت سره د لاندې ډګرونو د یو لړ پرمختیايي موخو په لاسته راوړنه کې مرسته کوي: امنیت او د قانون واکمنۍ، اداري سمون، روڼتیا او حساب ورکول، ځایي حکومت چلول، سیاسي بهیر (ټاکنې او پارلمان)، د مدني ټولنې ځواکمنول، د ښځو او نارینه وو برابری، بشري حقوق، چاپېریال او کلیواله انرژي، په ټولنه کې د پخوانیو وسله والو میشته کول، د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې د ملي تګلارې پلي کول او همدارنګه د کلیوالي پرمختیا پلان جوړول او د خصوصي سیکتور پرمختیا.

د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره ټول کارونه له افغان دولت، د ملګرو ملتونو له نورو ادارو او نورو پرمختیايي برخه والو سره په نږدې همکارۍ کې ترسره کوي.

د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې له یو شمېر دولتي ادارو لکه د مالیې وزارت، د کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزارت، د کورنیو چارو وزارت، د ملکي خدمتونو کمیسیون، د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د افغانستان بشري حقوقو خپلواک کمیسیون او د ښځو د چارو له وزارت سره په ستراتیژیکه توګه ګډ کار کوي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې ته تر ټولو لس ستر مرسته ورکوونکي، د امریکا متحده ایالات، اروپایي کمیسیون، جاپان، کاناډا، بریتانیا، هالنډ، ایټالیا، جرمني، ناروې او نړیوال بانک دي. له ۲۰۰۲ تر ۲۰۰۶ پورې د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې تر ۱،۳ ملیارده امریکایي ډالر تر لاسه او لګولي دي.

د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره د افغان او نړیوالو پرمختیايي شریکانو د ملاتړ او باور مننه کوي.


**د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره، شاه محمود غازي واټ، کابل، افغانستان**

د ټیلیفون شمېره: ۴۰۰۰ ۲۱۲ ۲۰ (۰) ۹۳+ یا ۴۰۷۶ ۲۱۲ ۲۰ (۰) ۹۳+

**د دې موضوعاتو په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره او یا که غواړئ چې مرسته وکړئ، هیله ده له اکمل داوي، د عامه معلوماتو مسؤول سره د (۱۲۲ ۲۰۱ ۷۰ (۰) ۹۳+) شمېرې یا** (akmal.dawi@undp.org) برښنالیک له لارې اړیکې ینګه کړئ.

www.undp.org.af